# د کورنتيانو په نوم د پولوس رسول اول خط

## پېژندګلو

د کورنتوس ښار جماعت ته پولوس رسول دوه خطونه وليکل. هغه د يونانيانو ښار ته مخکښې هم تلے وو. د کورنتيانو اول خط پولوس رسول د اِفِسوس نه وليکلو. هغۀ په دې خط کښې ايمانداراِنو له په اتفاق سره د اوسېدلو تعليم ورکړو او ورته دا هدايت کوى چې د مالِک خُدائ په کار کښې بوخت اوسئ. د کورنتيانو جماعت د څېنو زورَورو او کبرژنو ايماندارانو په وجه بېاتفاقه شو او په خپلو کښې په مينځ دوه ځايه شو. پولوس رسول دوئ ته منت وکړو چې د خپلې سيالۍ نه توبه ګار شئ او د زيرى د ترقۍ دپاره په شريکه کار کوئ، او تاسو ته په کار دى چې د هغه خلقو ايمان مضبوط کړئ چې څوک په ايمان کښې کمزورى وى، او داسې ګواهى ورکړئ چې په بېايمانانو ښۀ اثر وکړى. په دې کِتاب کښې پولوس رسول د څېنو مسئلو په حقله په عملى توګه هدايت ورکوى. په دې کِتاب کښې پولوس رسول په هغه موضوعاتو رڼا اچوى کومو چې په جماعت کښې بېاتفاقى راوستى وه، او د هغې په حقله يو څو عملى لارښودنې کوى چې هغه موضوعات دا دى، روحانى نعمتونه، وادۀ، د بُتانو نذرانه خوړل، او د بيا راژوندى کېدلو په حقله تعليم. د دې خط دوه مشهورې حصې دى، اوله حِصه ديارلسم باب کښې د مينې په حقله ده او بله په پينځلسم باب کښې د ايماندارانو د دوباره راژوندى کېدو په حقله ده. پولوس رسول دعوىٰ کوى چې د عيسىٰ مسيح د مړو نه راژوندى کېدل د دې خبرې تائيد دے چې په مقرر وخت به ايمانداران هم راژوندى کړے شى. د حفظ کولو دپاره ۴:۱۳ آيت "مينه صابره ده،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مینه مهربانه ده، مینه چا سره کینه نهٔ ساتی، مینه لافې نهٔ کوی او نهٔ لوئی کوی.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## سلام او د خُدائ شُکر

١ ﴿١﴾ د پولوس د طرف نه سلام چې د خُدائ پاک په مرضئ د عيسىٰ مسيح
بللے شوے رسول او د ورور سوستينس له طرف نه، ﴿٢﴾ د خُدائ پاک د هغه
جماعت په نوم چې په کورنتوس کښې دے، يعنې د هغوئ په نوم چې په عيسىٰ
مسيح کښې پاک کړے شوی او بللے شوی مقدسين دی، او د هغوئ ټولو په نوم
هم چې په هر ځائ کښې زمونږ د مالِک عيسىٰ مسيح او د خپل مالِک دواړو په
نوم عبادت کوی، ﴿٣﴾ زمونږ د خُدائ پلار او د مالِک عيسىٰ مسيح فضل او
سلامتی دې تاسو سره وی. ﴿٤﴾ زۀ ستاسو دپاره د خُدائ پاک د هغه فضل چې
په عيسىٰ مسيح کښې په تاسو وشو، هميشه د خُدائ پاک شُکر کوم. ﴿٥﴾ ځکه
چې په عيسىٰ مسيح کښې تاسو په هر لحاظ سره د کلام او هر قِسم عِلم خاوندان
شوئ. ﴿٦﴾ هم دغه وجه ده چې د مسيح ګواهی په تاسو کښې مضبوطه شوه،
﴿٧﴾ تر دې چې تاسو د يو روحانی نعمت نه هم نيمګړی نۀ يئ کله چې تاسو
زمونږ د مالِک عيسىٰ مسيح د بيا راتلو په انتظار يئ. ﴿٨﴾ هغه به تاسو تر آخره
پورې مضبوط ساتی، نو چې تاسو زمونږ د مالِک عيسىٰ مسيح د راتلو په ورځ
بې اِلزامه يئ. ﴿٩﴾ خُدائ پاک په خپلو خبرو کښې وفادار دے، د هغۀ په وسيله
تاسو د هغۀ د زوئ، زمونږ د مالِک عيسىٰ مسيح د شراکت دپاره راوبللے شوئ.

## په جماعت کښې ډله بازی

﴿١٠﴾ نو اوس اے ورونړو او خوېندو، عيسىٰ مسيح چې زمونږ مالِک دے، د هغۀ د
نوم په وسيله په تاسو زور راوړم چې تاسو ټول يو شئ او په خپل مينځ کښې ډلې
مۀ جوړَوئ، بلکې تاسو په يو عقل او پوره په يو خيال او اتفاق شئ. ﴿١١﴾ ځکه چې
اے ورونړو او خوېندو، ستاسو په نسبت ما ته د خلوئ د خاندان نه معلومه شوې
ده چې ستاسو په مينځ کښې جګړې روانې دی. ﴿١٢﴾ زما مطلب دا دے چې تاسو
هر يو وائی چې، ”زۀ د پولوس د ډلې نه يم،“ يا ”زۀ د اپولوس د ډلې نه يم،“ يا ”زۀ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د کائفس د ډلې نه يم،“ يا ”زۀ د مسيح د ډلې نه يم.“ ⑬ ولې مسيح په ډلو ووېشلے شو؟ ولې پولوس ستاسو دپاره په سولئ کړے شو؟ يا ولې تاسو د پولوس په نوم بپتسمه اخستې ده؟ ⑭ زۀ د خُدائ پاک شُکر گزار يم چې د کرسپوس او گايوس نه بغير ما په تاسو کښې بل يو تن ته هم بپتسمه نۀ ده ورکړې، ⑮ نو چې څوک دا ونۀ وائى چې تا زما په نوم بپتسمه اخستې ده. ⑯ او رښتيا ما د ستِفناس خاندان ته هم بپتسمه ورکړې ده. خو نور زما په ياداشت کښې نۀ راځى چې ما به بل چا ته بپتسمه ورکړې وى. ⑰ ځکه چې مسيح زۀ بپتسمه ورکولو له نۀ يم رالېږلے بلکې د زيرى اورولو دپاره يې رالېږلے يم، او هغه هم زما د عالمانه تقرير په بنياد نه، هسې نه چې د دې په وجه د مسيح سولئ بې‌اثره شى.

## حضرت عيسىٰ مسيح د خُدائ پاک قدرت او حِکمت

⑱ ځکه چې د سولئ پېغام د هلاکېدونکو په نزد خو بې‌وقوفى ده خو مونږ دپاره چا چې خلاصون حاصل کړے دے دا د خُدائ پاک قدرت دے. ⑲ ځکه چې دا ليکلى دى چې، ”زۀ به د حکيمانو حِکمت تباه کړم، او د هوښيارانو هوښيارتيا به رد کړم.“ ⑳ هغوئ چرته دى چې هوښيار دى؟ عالمان چرته دى؟ د دې زمانې تکړه بحث کوونکى چرته دى؟ ولې خُدائ پاک د دُنيا حِکمت ته بې‌وقوفى نۀ ده وئيلې؟ ㉑ ځکه چې خُدائ پاک د خپل حِکمت د فېصلې په مطابق دا خوښه کړه چې دُنيا په خپل عقل سره هغه پېژندلے نۀ شى، نو خُدائ پاک دا غوښتل چې د دې بې‌وقوفئ بيان په وسيله به هغوئ ته خلاصون ورکړى څوک چې ايماندار دى. ㉒ ځکه چې يهوديان د نښو طلب کوى او يونانيان د حِکمت خواهشمند دى. ㉓ خو مونږ په سولئ شوى مسيح زېرے ورکوو چې د يهوديانو په نزد د ټينډک خوړلو کاڼے او د غېريهوديانو په نزد بې‌وقوفى ده. ㉔ خو څوک چې رابللى شوى دى، کۀ يهوديان دى کۀ غېريهوديان، د دواړو دپاره مسيح د خُدائ پاک قدرت او د خُدائ پاک حِکمت دے. ㉕ کۀ چرته بنى آدمو ته د



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ پاک حکمت بېوقوفی ښکاری خو دا د بنی آدم د حکمت نه زیات حکمت
دے او کۀ دوئ ته د خُدائ پاک زور کمزورے ښکاری خو دا بیا هم د بنی آدمو
د زور نه زورَور دے. ﴿۲۶﴾ اے ورونړو او خوېندو، د خپل پخوانی مقام په حقله
سوچ وکړئ چې ستاسو په مینځ کښې د انسانی معیار په مطابق تاسو کښې نۀ ډېر
هوښیار وُو، نۀ ډېر زورَور وُو او نۀ ډېر د اوچت خاندان خلق وُو. ﴿۲۷﴾ خو خُدائ
پاک د دُنیا بېوقوفان غوره کړل د دې دپاره چې هوښیاران شرمنده کړی، او
خُدائ پاک د دُنیا کمزوری غوره کړل د دې دپاره چې زورَور شرمنده کړی. ﴿۲۸﴾
بلکې خُدائ پاک د دُنیا کمزوری، سپک او بېاصله خلق غوره کړل د دې دپاره
چې په هغوئ معتبر خلق نشت کړی، ﴿۲۹﴾ نو چې بیا هیڅوک هم د خُدائ پاک په
وړاندې فخر ونۀ کړی. ﴿۳۰﴾ خُدائ پاک په خپله مونږ د عیسیٰ مسیح سره یو کړو،
او د عیسیٰ مسیح په وسیله یې حکمت راکړو او هغه زمونږ دپاره صداقت،
پاکوالے او خلاصون وګرځېدو، ﴿۳۱﴾ نو دې دپاره لکه څنګه چې لیکلی دی،
”څوک چې فخر کوی هغه دې په مالِک فخر کوی.“

## په سولۍ شوی د حضرت عیسیٰ مسیح پیغام

**۲** ﴿۱﴾ اے ورونړو او خوېندو، کله چې زۀ تاسو له راغلم او په تاسو کښې مې د
خُدائ پاک د راز زیرے خور کړو، نو هغه څۀ د اوچتې درجې تقریر یا د حِکمت
په زور نۀ وو. ﴿۲﴾ کله چې زۀ تاسو سره وم نو ما دا فیصله کړې وه چې تاسو ته
په سولۍ شوی عیسیٰ مسیح نه بغیر نور د هیڅ بیان ونۀ کړم. ﴿۳﴾ او زۀ تاسو ته
په عاجزئ، ویره او رپېدو راغلم. ﴿۴﴾ زما د بیان او د زیری د اثر وجه د حِکمت
او په مائل کوونکو خبرو نۀ وو بلکې هغه د خُدائ پاک د روح او د قدرت د مخه
ثابت وو، ﴿۵﴾ نو ما دا څکه وکړل چې ستاسو ایمان د انسان د حِکمت په بنیاد
نه بلکې د خُدائ پاک په قدرت ولاړ وی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د خُدائ پاک د روح په وسيله حکمت

۶ بيا هم په کلکو ايماندارانو کښې مونږ د حِکمت خبرې کوُو کۀ څۀ هم چې دا
نۀ د دُنيا او نۀ د دې دُنيا د سردارانو حِکمت دے، څوک چې فنا کېدونکی دی.
۷ بلکې مونږ د خُدائ پاک د هغه پټ حِکمت راز بيانوو کوم چې خُدائ پاک د
دُنيا جوړولو نه مخکښې زمونږ د لويئ دپاره فيصله کړې وه. ۸ نو د دې زمانې
يو سردار هم په دې پوهه نۀ شو ځکه کۀ هغوئ پوهه شوی وے نو د جلال مالِک
به يې په سولی کړے نۀ وو. ۹ بلکې څنګه چې ليکلے شوی دی چې، ”څۀ چې
نۀ سترګو ليدلی، نۀ غوږوُنو اورېدلی او نۀ د انسان په زړۀ کښې راغلی دی، هغه
څيزونه خُدائ پاک د هغوئ دپاره تيار کړی دی څوک چې د هغۀ سره مينه
کوی.“ ۱۰ دا ټولې خبرې خُدائ پاک په مونږ د روح په وسيله ښکاره کړې،
ځکه چې روح د هر څيز تلاش کوی بلکې د خُدائ پاک پټې خبرې هم معلوموی.
۱۱ ځکه څوک د بل انسان د زړۀ خبرې معلومولے شی بغير د انسان د خپل
روح نه چې په هغۀ کښې دننه دے؟ دغه شان د خُدائ پاک د روح نه بغير هيڅوک
د خُدائ پاک خبرې معلومې نۀ دی. ۱۲ خو مونږ دُنياوی روح نۀ دے حاصل
کړے، بلکې هغه روح مو حاصل کړے دے چې د خُدائ پاک د طرفه دے، د دې
دپاره چې هغه نعمتونه وپېژنو کوم چې خُدائ پاک مونږ ته وړيا راکړی دی. ۱۳
او مونږ هغه خبرې هغه شان نۀ بيانوو چې انسانی حِکمت مونږ ته ښودلی دی،
بلکې هغه شان يې بيانوو چې مونږ ته روح راښودلی دی، او دغسې روحانی خبرې
هغه چا ته ښايُو، څوک چې روحانی دی. ۱۴ خو څوک چې روحانی نۀ وی نو
هغوئ د خُدائ پاک د روح خبرې نۀ منی ځکه چې دا د هغوئ په نزد بېوقوفی
ده، او هغوئ په هغې نۀ شی پوهېدے ځکه چې هغوئ تش د روحُ القُدس په وسيله
پوهېدے شی. ۱۵ څوک چې روحانی خلق دی هغوئ هر څۀ آزمائی خو هغه په
خپله هيڅوک نۀ شی آزمائيلے. ۱۶ ځکه چې، ”د مالِک خُدائ په اراده څوک
پوهېدے شی؟ يا څوک هغۀ ته مشوره ورکولے شی؟“ خو مونږ د مسيح عقل
لرو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د خُدائ پاک په کار کښې ملګرى

۳ ۞ اے ورونړو او خوېندو، ما تاسو سره لکه د روحانى خلقو په شان خبرې
ونۀ کړے شوې بلکې داسې مې وکړې لکه چې دُنياوى خلقو سره چې په مسيح
کښې ماشومان دى. ۞ ما تاسو له پئ درکړل خو روټئ نه، ځکه چې تاسو
روټئ خوړلو ته تيار نۀ وئ. بلکې اوس هم لا تاسو تيار نۀ يئ. ۞ ځکه چې تر
اوسه پورې تاسو د ګناه د فطرت په اختيار کښې يئ، او چې تر اوسه پورې په
تاسو کښې حسد او جګړه روانه ده. نو ولې د دې نه دا پته نۀ لګى چې تاسو تر
اوسه د انسانى خواهش په مطابق کردار کوئ؟ ۞ ځکه چې څۀ وخت چې يو
وائى چې زۀ د پولوس په ډله کښې يم او بل وائى چې زۀ د اپولوس په ډله کښې
يم، نو ولې تاسو په داسې کولو د انسانى فطرت په مطابق نۀ شوئ؟ ۞ اپولوس
څوک دے؟ او پولوس څوک دے؟ هغوئ خو صرف خادِمان دى د چا په وسيله
چې تاسو ايمان راوړو او دغه شان مونږ هر يو هغه خِدمت وکړو کوم چې مالِک
مونږ ته حواله کړے وو. ۞ ما کرونده وکړه، اپولوس اوبۀ ورکړې، خو وده
ورته خُدائ پاک ورکړه. ۞ نو بيا نۀ کرونده کوونکے او نۀ اوبۀ ورکوونکے
څۀ شے دے، بلکې صرف خُدائ پاک دے چې وده ورکوونکے دے. ۞ د تخم
کرونکى او د اوبو ورکوونکى دواړو مقصد يو دے، خو هر يو به د خپل محنت په
مطابق اجر بيا مومى. ۞ ځکه چې مونږ د خُدائ پاک خِدمتګار يُو، تاسو د
خُدائ پاک زمکه او د خُدائ پاک عمارت يئ. ۞ ما د هغه فضل په مطابق چې
خُدائ پاک راته راکړو، ما د يو پوهه ګلکار په شان بنياد کېښودو او کۀ په هغې بل
څوک عمارت ودانوى، نو هر يو ګلکار دې په دې خبردار شى چې پرې څنګه
عمارت جوړ کړى. ۞ ځکه چې هيڅوک هم بل بنياد نۀ شى اېښودلے بغير د
هغه بنياد نه چې اېښودلے شوے دے، او هغه بنياد عيسىٰ مسيح دے. ۞ کۀ
څوک په هغه بنياد باندې د سرو زرو، د سپينو زرو، د قيمتى کاڼو، لرګو، واښو يا
د بوسو عمارت جوړوى، ۞ نو د هر ګلکار کار به په خپله ښکاره شى ځکه چې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د قیامت په ورځ به دا په اور راڅرګند شي. او زمونږ د کار نېکي او بدي به په اور
وآزمائیلے شي. ﴿۱۴﴾ کۀ په هغه بنیاد د چا جوړ عمارت باقي پاتې شي نو هغه
ګلکار به اجر بیا مومي. ﴿۱۵﴾ کۀ د چا کار وسوزېږي نو هغۀ ته به تاوان ورسیږي،
خو هغه به په خپله په سوزېدو سوزېدو کښې د اور نه بچ شي. ﴿۱۶﴾ ولې تاسو
خبر نۀ یئ چې تاسو د خُدائ پاک کور یئ او د خُدائ پاک روح په تاسو کښې
اوسیږي؟ ﴿۱۷﴾ کۀ څوک د خُدائ پاک کور بربادوي نو خُدائ پاک به هغه کس
برباد کړي ځکه چې د خُدائ پاک کور پاک دے او هغه کور تاسو یئ. ﴿۱۸﴾ په
تاسو کښې دې څوک هم خپل ځان نۀ دوکه کوي. کۀ ستاسو خیال وي چې تاسو
د دې دُنیا په معیار هوښیار یئ، نو تاسو خپل ځان ناپوهه وګڼئ نو بیا به تاسو
هوښیار شئ. ﴿۱۹﴾ ځکه چې د دې دُنیا حِکمت د خُدائ پاک په نزد بېوقوفي ده،
ځکه چې دا لیکلي دي چې، ”هغه هوښیاران د هغوئ په چالاکۍ راګېروي.“ ﴿۲۰﴾
او بیا لیکلے شوي دي چې، ”مالِک خُدائ د هوښیارانو په خیالونو پوهه دے چې
باطل دي.“ ﴿۲۱﴾ نو بیا تاسو په یو انسان هم فخر مۀ کوئ، ځکه چې ټول هر څۀ
ستاسو دي، ﴿۲۲﴾ نو کۀ پولوس وي او کۀ اپولوس، کۀ پطروس، او کۀ دُنیا، ژوند
وي یا مرګ، کۀ موجوده وخت وي او یا آئنده وخت وي دا ټول هر څۀ ستاسو
دي، ﴿۲۳﴾ او تاسو د عیسیٰ مسیح یئ او مسیح د خُدائ پاک دے.

## د رسولانو خِدمت

۴ ﴿۱﴾ تاسو مونږ د مسیح خادِمان او د خُدائ پاک د رازونو ساتونکي وګڼئ.
﴿۲﴾ اوس ساتونکو ته په کار دي چې هغوئ اعتباري وي. ﴿۳﴾ خو زما دپاره دا
ډېره وړه خبره ده چې تاسو یا بل انساني عدالت دې زما جاج واخلي، بلکې زۀ په
خپله هم د ځان جاج نۀ اخلم. ﴿۴﴾ زۀ په خپله په خپل ځان کښې د څۀ عیب
احساس نۀ کوم خو د دې مطلب دا نۀ دے چې زۀ بېعیبه یم. ځکه چې مالِک
زما جاج اخلي. ﴿۵﴾ نو په دې وجه د مقرر شوي وخت نه وړاندې فیصله مۀ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوئ، د مالِک د راتلو تر وخته انتظار وکړئ. هغه به د تيارې پټې خبرې رڼا ته
څرګندې کړی او د زړۀ مقصدونه به راښکاره کړی. په هغه وخت کښې څوک
چې د څومره تعريف قابل وی خُدائ پاک به دومره د هغۀ تعريف وکړی. ٦
اے ورونړو او خوېندو، ما په دغه خبرو کښې د خپل ځان او د اپولوس ذکر د
مِثال په طور وکړو د دې دپاره چې تاسو زمونږ په وسيله د دې خبرو مطلب زده
کړئ، د ليکل شوی کلام نه زيات څۀ مۀ وايئ، او د يو مشر صِفت او د بل غيبت
مۀ کوئ. ٧ تاسو هيڅوک هم په بل باندې بهتر کړی نۀ يئ. او تاسو سره چې څۀ
دی هغه خُدائ پاک درکړی دی. او بيا چې هر څۀ خُدائ پاک درکړی دی نو بيا
په څۀ خبره فخر کوئ لکه چې هغۀ نۀ وی درکړی؟ ٨ ستاسو په خيال تاسو
اوس هغه هر څۀ حاصل کړل څۀ چې تاسو غوښتل، تاسو اوس مالداره شوی
يئ، زمونږ نه بغېر تاسو بادشاهی کوئ، په حقيقت کښې زما خواهش وو چې
تاسو بادشاهان شئ نو چې مونږ هم درسره بادشاهی وکړُو. ٩ خو په اصل
کښې خُدائ پاک مونږ رسولان د ټولو نه لاندې کړُو او د هغه خلقو په شان يې
پېش کړُو په چا چې د مرګ حکم شوے وی، ولې چې مونږ د ټولې دُنيا، يعنې
فرښتو او د بنی آدمو په وړاندې يوه تماشه شُو. ١٠ مونږ د مسيح په خاطر
بېوقوفان يُو، خو تاسو په مسيح کښې هوښيار يئ. مونږ کمزوری يُو خو تاسو
زورَور يئ. تاسو عزتمند يئ او مونږ سپک يُو. ١١ په دې موجوده وخت کښې
مونږ اوږی، تږی يُو، کپړې مو زړې دی او وهلے شوی يُو او بېکوره يُو، ١٢ او
مونږ په خپلو لاسونو خواری کوُو. خلق په مونږ بد وائی، مونږ ورته دُعا کوُو، کله
چې مو زوروی، مونږ يې زغمو، ١٣ څوک چې مونږ بدناموی، هغوئ ته په مينې
سره خواست کوُو. مونږ تر ننه پورې د دُنيا د ډېران او د ګند په شان پاتې شوی
يُو. ١٤ زۀ دا خبرې ستاسو د شرمولو دپاره نۀ ليکم بلکې تاسو ته د خپلو خوږو
بچو په شان نصيحت کوم. ١٥ ځکه چې کۀ په مسيح کښې ستاسو اُستاذان
بېشمېره هم وی خو بيا هم ستاسو روحانی پلار يو دے، او د زيری په وسيله زۀ
په عيسیٰ مسيح کښې ستاسو پلار شوم. ١٦ نو زۀ تاسو ته زاری کوم چې زما په



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نقش قدم شئ. ۞ په دې وجه ما تاسو ته تیموتیوس درولېږلو، هغه په مالِک
کښې زما خوږ او وفادار زوئ دے، چې تاسو ته په مسیح کښې زما هغه طریقې
دریادې کړی چې زهٔ یې هغوئ ته په هر ځائ او په هر جماعت کښې تعلیم
ورکوم. ۞ خو تاسو کښې ځینې داسې مغروره شول چې زهٔ گنې تاسو ته
درتلے نهٔ شم. ۞ خو کهٔ مالِک وغوښتل نو زهٔ به تاسو له زر درشم او زهٔ به نهٔ
صرف د هغه مغروره خلقو خبرې بلکې د هغوئ روحانی قدرت هم معلوم کړم.
۞ ځکه چې د خُدائ پاک بادشاهت په تشو خبرو نه، بلکې د هغهٔ په قدرت ولاړ
دے. ۞ نو تاسو څهٔ وایئ چې زهٔ تاسو ته کوتک په لاس یا په مینه د نرمئ په
روح کښې درشم؟

## د بداخلاقئ خِلاف حُکم

**۵** ۞ زهٔ خبر شوے یم چې ستاسو په مینځ کښې جنسی حرام کاری کیږی،
بلکې داسې جنسی حرام کاری چې په بې‌دینه خلقو کښې هم نهٔ کیږی. په تاسو
کښې یو سړے دے چې د هغهٔ خپلې میرنئ مور سره ناجائزه تعلقات دی. ۞ او
تاسو پرې فخر کوئ. ولې تاسو ته په کار نهٔ دی چې پرې وشرمیږئ؟ او چا چې
دا کار کړے دے هغه د خپل مینځ نه وشړئ. ۞ زهٔ اگر کهٔ په جسمانی طور
موجود نهٔ یم خو په روحانی طور موجود یم. او په داسې کس ما داسې فیصله
واوروله لکه چې زهٔ تاسو سره موجود یم. ۞ کله چې تاسو زمونږ د مالِک
عیسیٰ په نوم راجمع شئ او زهٔ تاسو سره په روح کښې موجود یم، او چې زمونږ
د مالِک عیسیٰ قدرت هم راسره موجود وی، ۞ نو تاسو دا سړے د هلاکت
دپاره شیطان ته وسپارئ، نو د هغهٔ گناه گار بدن به هلاک شی خو د هغهٔ روح به
د مالِک خُدائ د قیامت د راتلو په ورځ خلاصون بیا مومی. ۞ ستاسو فخر
کول ښهٔ خبره نهٔ ده. ولې تاسو خبر نهٔ یئ چې لږه شان خمبیره په قلپئ کښې ټول
اخښلے شوی اوړهٔ خمبیره کوی؟ ۞ خپل ځان نه زړه خمبیره وباسئ، نو چې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو لکه د تازه پتیره اوړو په شان جوړ شئ ځکه چې په حقیقت کښې تاسو د خمبیره اوړو په شان نۀ یئ، نو تاسو پاک یئ، ځکه چې مسیح د فسح اختر ګډُورے، زمونږ دپاره قربان شوے دے. ﴿۸﴾ نو راځئ چې مونږ اختر وکړُو، نۀ په زړه خمبیره او نۀ د بدئ او نۀ د شرارت په خمبیره بلکې په صفا زړۀ او د رښتیاو په پتیره روټئ باندې. ﴿۹﴾ ما په خپل خط کښې تاسو ته دا لیکلی وُو چې د حرام کارو سره ناسته پاسته مۀ کوئ. ﴿۱۰﴾ زما مطلب خو دا نۀ دے چې تاسو بلکل په خپل ژوند کښې د بې‌ایمانه، حرام کارو، لالچیانو، ظالمانو یا بُت پرستانو سره تعلق پریږدئ، نو په داسې کولو خو به بیا تاسو دا دُنیا پرېښودلې وی. ﴿۱۱﴾ خو زۀ اوس تاسو ته دا لیکم چې کۀ څوک ځان ته ایماندار وروړ یا خور وائی او حرام کار یا حرصناک یا بُت پرست یا کنځل مار یا شرابی یا ظالم وی نو د داسې کس سره روټئ قدرې هم مۀ خورئ. ﴿۱۲﴾ ځکه چې زما څۀ کار دے چې د هغوئ عدالت وکړم چې د جماعت نه بهر دی؟ خو تاسو د هغوئ عدالت کوئ څوک چې په جماعت کښې شامل دی. ﴿۱۳﴾ خُدائ پاک به په خپله د هغوئ عدالت وکړی څوک چې مونږ نه بهر دی. "هغه بد سړے د خپل مینځ نه وشړئ."

## د ایماندارانو په مینځ کښې مقدمه

۶ ﴿۱﴾ ولې تاسو دا جرأت کوئ چې کله ستاسو د خپل ایماندار وروړ سره مقدمه وی نو تاسو د فیصلې دپاره دا د بې‌دینه خلقو عدالت ته پېش کوئ او مقدسینو ته یې نۀ پېش کوئ؟ ﴿۲﴾ ولې تاسو ته دا پته نشته چې مقدسین به د دُنیا عدالت کوی؟ نو چې تاسو به د دُنیا عدالت کوئ نو ولې تاسو د دې جوګه نۀ یئ چې د معمولی نه معمولی مقدمو فیصلې وکړئ؟ ﴿۳﴾ ولې تاسو ته پته نشته چې مونږ به د فرښتو عدالت کوُو؟ نو بیا به تاسو عامې مقدمې نۀ شئ فیصله کولے څۀ؟ ﴿۴﴾ نو کۀ ستاسو په مینځ کښې عامې مقدمې وی نو ولې تاسو هغه خلق منصفان مقرروئ چې په جماعت کښې د هغوئ څۀ حیثیت نۀ وی؟ ﴿۵﴾ تاسو ته



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زۀ دا د شرمولو دپاره وايم چې ولې په تاسو کښې څوک هم دومره هوښيار نشته چې هغه د دوو ايماندارانو په مينځ کښې فېصله وکړی؟ ۶ ځکه چې يو ايماندار د بل ايماندار خلاف عدالت ته ځی او هغه هم بېدينو خلقو له. ۷ په حقيقت کښې په يو بل مقدمه کول ستاسو غلطی ده. آيا دا به ښۀ نۀ وه چې هغه نا اِنصافی مو برداشت کړے وے؟ او يا کۀ چا تاسو له دوکه درکړی وه او په هغې مو صبر کړے وے؟ ۸ خو تاسو په خپله ايماندارانو سره بد کوئ او ورله دوکه ورکوئ. ۹ ولې تاسو په دې خبر نۀ يئ چې بدکاران به د خُدائ پاک د بادشاهۍ وارثان نۀ شی؟ ځان مۀ دوکه کوئ، نۀ به حرام کار، نۀ بُت پرست، نۀ زناکار، نۀ بچه بازان، ۱۰ نۀ غلۀ، نۀ حرصناک، نۀ شرابيان، نۀ کنځل مار او نۀ به دوکه مار د خُدائ پاک د بادشاهۍ وارثان شی. ۱۱ او په تاسو کښې ځينې هم دغه شان وُو خو تاسو د مالِک عيسیٰ مسيح په نوم او زمونږ د خُدائ پاک په روح ووينځلے شوئ. بلکې پاک شوئ، صادق هم شوئ.

## په بدن او روح سره خُدائ ته جلال ورکړئ

۱۲ ستاسو په خيال چې ټول څيزونه تاسو ته روا دی خو زۀ وايم چې ټول څيزونه فائده مند نۀ دی. کۀ تاسو ټول څيزونه ځان دپاره روا ګڼئ خو بيا هم خپل ځان د هغوئ غلام مۀ جوړَوئ. ۱۳ ستاسو په خيال چې خوراک د خېټې دپاره دے او خېټه د خوراک دپاره ده خو زۀ وايم چې خُدائ پاک به هغه دواړه ختم کړی. بدن د حرامکارۍ دپاره نۀ دے جوړ شوے بلکې د مالِک د خِدمت دپاره جوړ شوے دے او مالِک د بدن ساتونکے دے. ۱۴ خُدائ پاک مالِک هم بيا ژوندے کړو او مونږ به هم په خپل قُدرت سره بيا ژوندی کړی. ۱۵ ولې تاسو خبر نۀ يئ چې ستاسو بدنونه د مسيح اندامونه دی؟ نو ولې زۀ دې د مسيح اندامونو نه د يوې کنجرې اندامونه جوړ کړم؟ نه، هيڅکله نه. ۱۶ ولې تاسو نۀ يئ خبر چې هر څوک چې کنجرې له لاړ شی نو هغه د هغې سره يو بدن شی؟ ځکه چې صحيفې وائی چې، "دا دواړه به يو بدن شی." ۱۷ خو هر څوک چې د مالِک



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره پیوند شی، هغه به د مالِک سره یو روح شی. ﴿۱۸﴾ د حرام کارئ نه تښتئ. د انسان نه چې کومه ګناه کیږی هغه د بدن نه بهر وی د زنا نه بغیر، ځکه چې حرام کار خپل بدن هم تباه کوی. ﴿۱۹﴾ ولې تاسو ته پته نشته چې ستاسو بدن د روحُ القُدس کور دے؟ څوک چې په تاسو کښې اوسیږی او هغه د خُدائ پاک د طرف نه تاسو ته درکړے شوے دے. نو اوس تاسو د خپل ځان مالِک نۀ یئ. ﴿۲۰﴾ ځکه چې خُدائ پاک تاسو په بیعه اخستی یئ، نو په دې وجه خپل بدن کښې خُدائ پاک ته جلال ورکړئ.

## د وادۀ په حق کښې مسئلې

**۷** ﴿۱﴾ اوس د هغه مسئلو په حقله کومې چې تاسو لیکلی دی چې د سړی دپاره دا بهتره ده چې د ښځې سره کورِوالے ونۀ کړی. ﴿۲﴾ خو د حرام کارئ نه د بچ کېدو د خاطره دا به ښۀ وی چې د هر سړی خپله ښځه وی او د هرې ښځې خپل خاوند وی. ﴿۳﴾ خاوند دې د خپلې ښځې د کورِوالی خیال ساتی او هم دغه شان دې ښځه د خپل خاوند خیال ساتی. ﴿۴﴾ ښځه د خپل بدن اختیارمنده نۀ ده، بلکې اختیار د خاوند دے. هم دغه شان خاوند د خپل بدن اختیارمند نۀ دے بلکې د هغۀ ښځه ده. ﴿۵﴾ تاسو د یو بل سره کورِوالے مۀ پرېږدئ خو د لږ وخت دپاره د یو بل په مشوره خیر دے چې د دُعا خاص فرصت درته مِلاو شی، او د لږ وخت نه وروستو بیا یو ځائ شئ، هسې نه چې شیطان د نفس د کمزورئ په وجه تاسو په آزمیښت کښې واچوی. ﴿۶﴾ زۀ تاسو ته د دې اجازت درکوم خو حُکم نه. ﴿۷﴾ زما دا خواهش دے چې هر څوک دې په دې مسئله کښې زما په شان ناوادۀ کړے وی خو د خُدائ پاک د طرف نه هر چا ته جدا جدا نعمت ورکړے شوے دے. ﴿۸﴾ نو زۀ ناوادۀ کړو او کونډو ته دا وایم چې د هغوئ دپاره دا بهتره ده چې زما په شان ناوادۀ کړی پاتې شی. ﴿۹﴾ خو کۀ هغوئ خپل ځانونه نۀ شی قابو کولے نو وادۀ دې وکړی ځکه چې وادۀ کول په شهوت کښې د



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سوزېدو نه ښۀ دی. ⑩ خو چې د چا وادۀ شوے وی هغوئ ته، زۀ نه، بلکې مالِک حکم ورکوی، چې ښځه دې د خپل خاوند نه نۀ جدا کيږی. ⑪ خو کۀ هغه جدا شی نو هغه دې بل خاوند ونۀ کړی يا دې د خپل خاوند سره دوباره پخلا شی، او خاوند دې هم د خپلې ښځې نه، نۀ تبنتی. ⑫ دې نورو ته هم زۀ دا وايم، نه چې مالِک، کۀ د يو ايماندار ښځه ايمانداره نۀ وی او هغه د هغۀ سره په اوسېدو راضی وی نو هغه دې خپلې ښځې له طلاق نۀ ورکوی. ⑬ او کۀ د کومې ښځې خاوند چې ايماندار نۀ وی او هغه د هغې سره په اوسېدو راضی وی نو هغه دې د خپل خاوند نه طلاق نۀ اخلی ⑭ ځکه چې کوم خاوند ايماندار نۀ وی، نو هغه د ښځې په وجه پاک شی او کومه ښځه چې ايمانداره نۀ وی، نو هغه د ايماندار خاوند په وجه پاکه شی، ګنې ستاسو بچی به ناپاک وُو خو اوس پاک دی. ⑮ خو کۀ بې‌ايمانه خاوند يا ښځه په خپلو کښې جدا کېدل غواړی نو پرېږدئ چې جدا شی. په داسې حالت کښې ايماندار خاوند يا ښځه د يو بل پابند نۀ دی، ځکه چې خُدائ پاک تاسو د سلامتئ ژوند کولو دپاره رابللی يئ. ⑯ ولې چې اے ښځې، تۀ څۀ خبر يې، کېدے شی چې تۀ خپل خاوند بچ کړې. او اے سړيه، تۀ څۀ خبر يې، کېدے شی چې تۀ خپله ښځه بچ کړې.

## د مالِک نه مقرر شوے ژوندون

⑰ خو بيا هم هر يو کس ته په کار دی چې هغه شان ژوند تېر کړی کوم چې مالِک ورته مقرر کړے دے او کوم ته چې خُدائ پاک تاسو رابللی يئ. په ټولو جماعتونو کښې زما دا دستور دے. ⑱ کۀ چرې څوک سنت شوی رابللے شوی وی نو هغوئ دې خپل ځانونه ناسنته نۀ ښکاره کوی، او کۀ چرې څوک ناسنته رابللے شوی وی نو هغوئ دې خپل ځانونه نۀ سنتوی. ⑲ ځکه چې په سنت او ناسنته کښې څۀ مطلب نشته بلکې د خُدائ پاک په حکمونو عمل کول ضروری دی. ⑳ تاسو هر يو چې په کوم حالت کښې رابللے شوی يئ هم په هغې کښې پاتې شئ. ㉑ آيا تۀ غلام وې کله چې راوبللے شوې؟ نو په دې مۀ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پرېشانه کېږه، خو کهٔ تا ته د آزادېدو موقع مِلاو شی نو هغه اختيار کړه. ۲۲ ځکه کهٔ تاسو د غلامئ په حالت کښې مالِک ته رابللے شوی يئ، نو په مالِک کښې آزاد کړے شوی يئ. دغه شان څوک چې آزاد رابللے شوے دے، هغه اوس د مسيح غلام دے. ۲۳ تاسو په بيعه اخستے شوی يئ، نو اوس د انسانانو غلامان مهٔ جوړېږئ. ۲۴ اے وروڼو او خوېندو، په کوم حالت کښې چې تاسو رابللے شوی وئ، هم په هغې کښې د خُدائ پاک سره قائم پاتې شئ.

## پېغلې او کونډې

۲۵ خو د پېغلو په باب کښې ما سره د مالِک څهٔ حکم نشته، خو زهٔ څوک چې مالِک د خپل رحم په وسيله د اعتماد قابل کړے يم تاسو ته خپله رائے درکوم. ۲۶ زما په خيال چې په دې سخت حالت کښې تاسو دپاره دا بهتره ده چې څنګه يئ هم هغه شان پاتې شئ. ۲۷ کهٔ ستا ښځه وی نو هغې له د طلاق ورکولو کوشش مهٔ کوه او کهٔ ستا ښځه نهٔ وی نو د وادهٔ کولو کوشش مهٔ کوه. ۲۸ خو کهٔ تهٔ وادهٔ وکړې نو تا ګناه نهٔ ده کړې، او کهٔ يوه پېغله وادهٔ شی نو هغې څهٔ ګناه ونهٔ کړه، خو کهٔ څوک وادهٔ وکړی نو په ژوند کښې به پرې تکليفونه راشی او زهٔ تاسو د دې نه بچ کول غواړم. ۲۹ خو اے وروڼو او خوېندو، زهٔ دا وايم چې مقرر شوے وخت رانزدې دے نو د دې نه پس دې د ښځو خاوندان داسې وی لکه چې د هغوئ ښځې نهٔ وی، ۳۰ او ژړېدونکی دې داسې وی لکه چې هغوئ نهٔ ژړل، او څوک چې خوشحالی کوی، هغوئ دې داسې وی لکه چې هغوئ خوشحالی نهٔ کوی، او اخستونکی دې داسې وی لکه چې مال ورسره نهٔ وی، ۳۱ او څوک چې د دُنيا سره لين دين کوی هغوئ دې داسې وی لکه دې سره يې هيڅ لين دين نهٔ وی. ځکه چې دا موجوده دُنيا فنا کېدونکې ده. ۳۲ زهٔ دا غواړم چې تاسو د پرېشانئ نه بې‌غمه اوسئ. ناوادهٔ شوے سړے د مالِک په حقله سوچ کوی چې مالِک به څنګه راضی کړی. ۳۳ خو وادهٔ شوے سړے د دُنياوی څيزونو په حقله سوچ کوی چې خپله ښځه به څنګه راضی کړی، ۳۴ او هغه دوه زړيه شی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو ناوادۀ شوې ښځه او پېغله د مالِک په فکر کښې اوسيږی چې د هغوئ بدن او روح دواړه پاک شی، خو وادۀ شوې ښځه د دُنياوی څيزونو په حقله فکر کوی چې څنګه به خپل خاوند راضی کړی. ۳۵ زۀ دا ستاسو د فائدې دپاره وايم، نه چې په تاسو څۀ پابندی دپاره بلکې څۀ چې ښۀ وی په هغې عمل وکړئ او تاسو د مالِک په خِدمت کښې بې‌غمه آخته اوسئ. ۳۶ کۀ د چا دا خيال وی چې هغه د خپلې چنغلې سره د وادۀ نۀ کولو په وجه د هغې حق وهی او د هغې زيات خواهشمند وی نو پرېږدئ چې د هغې سره وادۀ وکړی نو دا ګناه نۀ ده. ۳۷ خو کۀ چا خپل ځان سره د وادۀ نۀ کولو پخه اراده کړې وی او هغه مجبوره نۀ وی بلکې خپل خواهش ساتلے شی او په زړۀ کښې يې دا وی چې خپله چنغله به بې‌وادۀ نۀ پرېږدی نو هغه ښۀ کوی. ۳۸ نو بيا څوک چې د خپلې چنغلې سره وادۀ کوی هغه ښۀ کوی، او څوک يې چې نۀ کوی هغه لا ښۀ کوی. ۳۹ د يوې ښځې چې ترڅو خاوند ژوندے وی هغه تر هغې د هغۀ پابنده ده، خو کۀ خاوند يې مړ شی نو هغه بيا آزاده ده خو صرف د ايماندار سره وادۀ کولے شی. ۴۰ خو زما په خيال به هغه بختوره وی چې په خپل حالت کښې پاتې شی څنګه چې ده، او زما په خيال چې د خُدائ پاک د روح په مطابق تاسو ته زۀ دا نصيحت کوم.

## بُتانو ته د خوراک نذر پېش کول

**۸** ۱ کوم سوال چې تاسو ته د هغه خوراک په حقله کوم چې بُتانو ته پېش کېږی پېدا شوے دے، جواب يې دا دے چې مونږ ټول خو د دې موضوع په حقله عِلم لرو. خو عِلم مونږ مغروره کوی، او مينه مونږ جوړوی. ۲ کۀ څوک دا وائی چې زۀ پوهه يم نو څنګه چې پوهېدل په کار دی هغه شان لا نۀ پوهيږی. ۳ خو څوک چې د خُدائ پاک سره مينه کوی خُدائ پاک په خپله هغه پېژنی. ۴ نو بُتانو ته د پېش کړے شوی خوراک د خوړلو په حقله مونږ پوهيږو چې په بُت کښې هيڅ رښتينوالے نشته او بغير د يو خُدائ پاک نه بل نشته. ۵ کۀ خلق په زمکه او په آسمان کښې ډېر معبودان او ډېر خُدايان او مالِکان منی، ۶ خو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زمونږ دپاره يو خُدائ پاک دے، يعنې پلار، او څوک چې د ټولو څيزونو خالق
دے او د چا دپاره چې مونږ ژوندى يُو، او يو مالِک دے، يعنې عيسىٰ مسيح
څوک چې د ټولو څيزونو خالق دے او د چا په وسيله چې مونږ ژوندى يُو. ۷
خو هر چا ته دا عِلم نشته بلکې د ځينو خو اوس هم د بُت پرستۍ عادت دے،
هغوئ اوس هم هغه غوښه د بُت قربانى گڼى او خورى يې او د هغوئ ضمير
کمزورے او پليت دے. ۸ خوراک مونږ د خُدائ پاک سره نزدې کولے نۀ
شى. کۀ وې يې نۀ خورو نو مونږ ته يې څۀ نقصان نشته او کۀ وې يې خورو نو
څۀ فائده هم نشته. ۹ خو خيال کوئ، چې ستاسو آزادى د کمزورو دپاره د
تيندک باعث نۀ شى. ۱۰ ځکه کۀ نور خلق ستا په شان د عِلم خاوند په بُت‌خانه
کښې په خوراک ووينى نو ولې د هغوئ کمزورے ضمير به زړَور نۀ شى چې د
بُتانو د قربانۍ غوښه وخورى؟ ۱۱ نو ستا د عِلم په وجه به هغه کمزورى
ايمانداران چې د چا دپاره چې مسيح مړ شو، هغه به هلاک شى. ۱۲ خو کله چې
تاسو د نورو ايماندارانو په خلاف گناه کوئ او د هغوئ کمزورے ضمير زخمى
کوئ نو تاسو د مسيح خلاف گناه کوئ. ۱۳ په دې وجه کۀ زما د خوراک په
وجه زما ورور يا خور تيندک خورى نو زۀ به هيڅکله هم غوښه ونۀ خورم نو چې
زۀ د هغوئ دپاره د تيندک سبب ونۀ گرځم.

## د رسول حق

۹ ۱ ولې زۀ آزاد نۀ يم څۀ؟ ولې زۀ رسول نۀ يم څۀ؟ ولې ما عيسىٰ چې زمونږ
مالِک دے نۀ دے ليدلے څۀ؟ ولې تاسو په مالِک کښې زما د خِدمت مېوه نۀ يئ
څۀ؟ ۲ کۀ زۀ د نورو دپاره رسول نۀ يم نو کم از کم ستاسو دپاره خو يم ځکه
چې تاسو په مالِک کښې زما د رسالت مهر يئ. ۳ څوک چې زما آزمېښت
کوى دا د هغوئ په وړاندې زما دفاع ده، ۴ ولې مونږ ته د خپل خوراک
څښاک حق نشته څۀ؟ ۵ ولې مونږ ته دا حق نشته چې ايمانداره ښځه په نِکاح



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړُو او ځان سره يې کړو لکه څنګه چې نور رسولان او د مالِک ورونړه او کائفس
کوی؟ ۶ يا يواځې زهٔ او برنباس د ژوند تېرولو دپاره په خوارئ مزدورئ پړ يُو
څهٔ؟ ۷ ولې تر اوسه چا په خپله خرچه د فوج خِدمت کړے دے؟ څوک داسې
دے چې د انګورو باغ وکَری او مېوه يې نهٔ خوری؟ يا څوک داسې دی چې رمه
څروی او د هغې پئ نهٔ څښی؟ ۸ ولې زهٔ دا خبرې د بنی آدم د خيال نه کوم؟
ولې شريعت هم داسې نهٔ وائی؟ ۹ ځکه چې د موسیٰ په شريعت کښې دا ليکلی
دی چې، "تاسو د غوبل په وخت کښې د غوَيی خولې ته کوَرے مهٔ اچوئ." ولې
خُدائ پاک د غوَيانو فکر کوی څهٔ؟ ۱۰ يا ولې هغه دا خاص زمونږ دپاره نهٔ
فرمائی؟ دا حقيقت کښې زمونږ دپاره ليکلے شوی دی ځکه چې څوک قلبه کوی
په دې اُميد يې کوی چې څهٔ به حاصل کړی او څوک چې غوبل کوی په دې اُميد
يې کوی چې په فصل کښې به ورته برخه مِلاو شی. ۱۱ کهٔ مونږ ستاسو په مينځ
کښې روحانی تخم وکَرلو نو ولې دا څهٔ لويه خبره ده چې مونږ ستاسو د مادی
څيزونو فصل وريبو؟ ۱۲ چې د نورو په تاسو دا حق شته نو ولې زمونږ د دې نه
زيات نهٔ دے څهٔ؟ مونږ کله هم دې حق نه کار وانهٔ خستو خو مونږ هر څيز
برداشت کوُو د دې دپاره چې د مسيح په زيری کښې څهٔ رکاوټ نهٔ وی. ۱۳
ولې تاسو نهٔ يئ خبر څوک چې د خُدائ د کور خِدمت کوی، نو هغه د خُدائ د
کور د نذرانې نه خوری او څوک چې د قربانګاه خِدمتګار دی، نو هغوئ ته د
قربانئ نه حِصه ملاويږی؟ ۱۴ دغه شان مالِک هم حکم کړے دے، څوک چې د
زيری بيانوونکی دی د هغوئ آمدن دې هم د زيری نه وی. ۱۵ خو ما خپل د دې
حق نه هيڅ فائده وانهٔ خستله او نهٔ مې دا د دې دپاره وليکل چې زهٔ د دې نه فائده
واخلم ځکه چې زما دپاره د دې نه مړ کېدل بهتر دی. هيڅوک زما فخر بې ځايه
کولے نهٔ شی. ۱۶ کهٔ زهٔ زيرے بيانوم نو په دې څهٔ فخر نهٔ کوم ځکه چې دا زما
فرض دی. او افسوس دے په ما، کهٔ زهٔ زيرے نهٔ بيانوم. ۱۷ ځکه کهٔ زهٔ دا په
خپلې مرضئ کوم نو اجر زما حق جوړيږی، خو کهٔ دا زما په خپلې مرضئ نهٔ
وی خو بيا هم خُدائ پاک د دې کار ذمه واری ما ته راکړې ده. ۱۸ نو بيا زما



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اجر څهٔ شے دے؟ صرف دا چې زيرے بيانوم او هغه هم مفت بيان کړم، او د
خپل هغه حق نه څهٔ فائده وانهٔ خلم چې ما ته په زيری کښې حاصل دے. (۱۹)
اګر کهٔ زهٔ د ټولو خلقو نه آزاد يم بيا هم ما ځان د ټولو غلام کړو، نو چې نور
زيات خلق د مسيح دپاره راولم. (۲۰) زهٔ د يهوديانو دپاره يهودی شوم دې دپاره
چې يهوديان راولم. ما د موسیٰ د شريعت د منونکو د راوستلو دپاره ځان د
هغوئ په شريعت کړو، سره د دې چې زهٔ د هغوئ د شريعت د لاندې نهٔ يم. (۲۱)
ما د بې‌شريعته خلقو دپاره ځان بې‌شريعته جوړ کړو نو چې بې‌شريعته د مسيح
دپاره راولم، اګر کهٔ زهٔ د خُدائ پاک د شريعت نه آزاد نهٔ يم بلکې د مسيح په
شريعت يم. (۲۲) زهٔ د کمزورو دپاره کمزورے شوم چې کمزوری راولم. ما خپل
ځان د مختلفو خلقو په شان جوړ کړو نو چې په څهٔ نا څهٔ طريقې سره ځينې
خلق بچ کړم. (۲۳) زهٔ دا هر څهٔ د زيری د خاطره کوم د دې دپاره چې زهٔ د
هغوئ سره د هغهٔ په برکتونو کښې شريک شم. (۲۴) ولې تاسو نهٔ يئ خبر چې په
منډه کښې ټول منډې وهونکی منډې وهی ولې اِنعام يو ګټی؟ نو تاسو هم داسې
منډه ووهئ چې وې ګټئ. (۲۵) هر لوبغاړے په هر څيز کښې سخته پابندی کوی.
هغوئ دا د فنا کېدونکی تاج د حاصلولو دپاره کوی، خو مونږ دا د ابدی تاج
دپاره کوُو. (۲۶) نو زهٔ بې‌مقصده منډه نهٔ وهم او نهٔ زهٔ باد په سوکونو وهم. (۲۷)
بلکې زهٔ په خپل بدن تکليف تېروم او خپل غلام يې جوړوم، هسې نه چې زهٔ نورو
ته زيرے ورکوم او په خپله ترې محرومه شم.

## د بُت پرستۍ خِلاف خبردارے

**۱۰** (۱) اے ورونړو او خويندو، زهٔ تاسو د دې نه ناخبره پاتې کېدل نهٔ غواړم
چې زمونږ پلار نيکونه ټول د ورېځې په حفاظت کښې وُو او ټول د بحرِقُلزم سيند
نه پورې وتل، (۲) او ټولو په ورېځ او په بحرِقُلزم کښې د موسیٰ بپتسمه واخسته،
(۳) او ټولو يو شان روحانی خوراک وخوړلو، (۴) او ټولو يو شان روحانی اوبهٔ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وښيلي. ځکه چې هغوئ د هغه روحانی ګټ نه اوبهٔ وڅښلې کوم چې د هغوئ
سره روان وو، او هغه ګټ مسيح وو. ۵ خو په هغوئ کښې د ډېرو نه خُدائ
پاک راضی نهٔ وو نو ځکه د هغوئ لاشونه په بيابان کښې خوارهٔ وارهٔ شول. ۶
اوس دا خبرې زمونږ دپاره يو مثال شو نو چې بيا مونږ د خرابو څيزونو خواهش
ونهٔ کړو لکه څنګه چې هغوئ کولو. ۷ تاسو بُت پرست مهٔ جوړېږئ لکه چې په
هغوئ کښې ځينې شوی وُو، لکه څنګه چې ليکلی دی چې، ”هغه خلق د خوړلو او
څښلو دپاره کښېناستل او بيا هغوئ پاڅېدل، د مستئ او عياشئ سره ګډېدل.“
۸ مونږ دې جنسی حرامکاری ونهٔ کړُو لکه څنګه چې په هغوئ کښې ځينو
کړې وه او په يوه ورځ کښې درويشت زره هلاک شول. ۹ مونږ دې د مسيح
آزميښت ونهٔ کړُو لکه څنګه چې په هغوئ کښې ځينو کړے وو او بيا مارانو
هلاک کړل. ۱۰ او تاسو شکايت ونهٔ کړئ لکه څنګه چې په هغوئ کښې ځينو
کړے وو او بيا د هلاکت فرښتې هغوئ هلاک کړل. ۱۱ په هغوئ دا خبرې
زمونږ د عبرت دپاره راغلې وې او زمونږ د آخری زمانې خلقو ته د نصيحت
دپاره وليکلے شوې. ۱۲ نو کهٔ ستا خيال وی چې تهٔ مضبوط ولاړ يې خو
احتياط کوه چې راپرې نهٔ وځې. ۱۳ تاسو په څهٔ داسې آزميښت کښې نهٔ يئ
پرېوتلی چې هغه د نورو انسانانو نه مختلف وی، نو خُدائ پاک وفادار دے او
هغه به تاسو ستاسو د برداشت نه په زيات آزميښت کښې نهٔ اچوی، بلکې د
آزميښت په وخت کښې به هغه تاسو ته د وتلو لار هم پېدا کړی چې يې تاسو
برداشت کولے شئ. ۱۴ نو په دې وجه زما خوږو ملګرو، د بُت پرستئ نه
وتښتئ. ۱۵ تاسو په خپله پوهېږئ څهٔ چې زهٔ وايم تاسو د هغې په خپله جاج
واخلئ. ۱۶ کله چې د عشاء ربانی په وخت کښې مونږ هغه پيالئ ته برکت
ورکوو، ولې هغه د مسيح په وينه کښې شراکت نهٔ دے څهٔ؟ هغه روټئ چې مونږ
يې ماتوو، ولې هغه د مسيح د بدن شراکت نهٔ دے څهٔ؟ ۱۷ کهٔ څهٔ هم چې مونږ
ډېر يُو خو په شريکه د يوې روټئ نه خورو او په دې دا ځرګنده وُو چې مونږ يو
بدن يُو. ۱۸ بنی اِسرائيلو ته وګورئ. ولې هغوئ د قربانيانو خوړلو دپاره په



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قربان‌ګاه کښې شریکیږی نه څۀ؟ ۱۹ ولې زما مطلب دا دے چې ګڼې د بُت د قربانۍ څۀ حیثیت وی؟ او یا د بُت څۀ حیثیت شته دے؟ ۲۰ نه، زۀ دا وایم چې کومې قربانۍ چې غېریهودیان کوی، هغوئ پیریانو ته قربانی کوی، خُدائ پاک ته یې نۀ کوی، او زۀ دا نۀ غواړم چې تاسو د پیریانو سره شریک شئ. ۲۱ تاسو د مالِک د پیالۍ نه او د پیریانو د پیالۍ نه نۀ شئ څښلے، تاسو د مالِک په دسترخوان او د پیریانو په دسترخوان کښې نۀ شئ شریک کېدے. ۲۲ یا ولې مونږ د مالِک غېرت کښې راولو څۀ؟ ولې مونږ د هغۀ نه زورَور یُو څۀ؟

## هر څۀ د خُدائ پاک د لویئ دپاره کوئ

۲۳ هر څۀ روا دی، خو هر څۀ فائده مند نۀ دی. هر څۀ روا دی خو هر څۀ ترقی نۀ ورکوی. ۲۴ تاسو خپلې فائدې مۀ لټوئ بلکې د نورو هم لټوئ. ۲۵ څۀ چې د قصاب په دوکان خرڅیږی هغه خورئ او د ضمیر په خاطر سوال مۀ پورته کوئ، ۲۶ ځکه ”دا دُنیا د مالِک خُدائ ده او هر څۀ چې په دې کښې دی.“ ۲۷ کۀ څوک غېر ایماندار تاسو ته د روټۍ دعوت وکړی او تاسو په تلو راضی یئ، نو هر څۀ چې درته وړاندې کېږدی هغه خورئ او په خپل ضمیر کښې سوال مۀ راولئ. ۲۸ خو کۀ تاسو ته څوک ووائی چې، ”دا بُت ته د قربانۍ غوښه ده،“ نو د هغۀ د ضمیر د خاطره هغه مۀ خوره. ۲۹ زما مطلب د نورو ضمیر دے ستاسو نۀ دے. ځکه چې د بل چا ضمیر زما د آزادۍ فېصله ولې کوی؟ ۳۰ کۀ زۀ په کښې په شُکر ګزارۍ شریک شم، نو چې په کوم څیز زۀ شُکر وباسم نو بیا د هغې په سبب زۀ ولې ملامت شم؟ ۳۱ نو بیا چې تاسو څۀ خورئ یا څښئ یا چې څۀ کوئ، هغه هر څۀ د خُدائ پاک د لویئ دپاره کوئ. ۳۲ د یهودیانو او یونانیانو او د خُدائ پاک د جماعت دپاره د ټینډک سبب مۀ جوړېږئ. ۳۳ څنګه چې زۀ په خپل هر کار کښې د هر چا د خوشحالولو کوشش کوم نو دا زۀ د خپلې فائدې دپاره نۀ کوم بلکې د نورو ډېرو دپاره یې کوم د دې دپاره چې هغوئ پرې خلاصون بیا مومی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۱ ① تاسو زما په نقش قدم شئ لکه څنګه چې زهٔ د مسيح په نقش قدم روان يم.

## په عبادت کښې سر پټول

② زهٔ ستاسو تعريف کوم ځکه چې تاسو په هره خبره کښې ما يادوئ، او څنګه چې ما تاسو ته روايتونه در وسپارل تاسو هغه هم هغه شان برقرار ساتئ. ③ خو زهٔ غواړم چې تاسو پوهه شئ چې د هر سړی سر مسيح دے، او خاوند د خپلې ښځې سر دے، او د مسيح سر خُدائ پاک دے. ④ کوم سړے چې په پټ سر دُعا يا نبوت کوی هغه د مسيح بې‌عزتی کوی ځوک چې د هغهٔ سر دے. ⑤ خو کومه ښځه چې سر توره دُعا يا نبوت کوی نو هغه د خپل خاوند بې‌عزتی کوی ځکه چې هغه د سر خرئيلې په شان ده. ⑥ ځکه کهٔ يوه ښځه لوپټه نهٔ په سره وی نو هغه دې ويښتهٔ هم کټ کړی. خو کهٔ د ښځې دپاره ويښتهٔ کټ کول او سر خرئيل د شرم خبره وی نو لوپټه دې په سره وی. ⑦ نو د سړی دپاره په کار نهٔ دے چې هغه خپل سر پټ کړی ځکه چې سړے د خُدائ پاک د صورت او جلال په شان دے، خو ښځه د سړی جلال ده. ⑧ ځکه چې سړے د ښځې نه نهٔ دے پيدا شوے بلکې ښځه د سړی نه پيدا شوې ده. ⑨ سړے د ښځې د خاطره نهٔ دے پيدا شوے بلکې ښځه د سړی د خاطره پيدا شوې ده. ⑩ نو د فرښتو د ليدو په سبب ښځې له په کار دی چې په خپل سر د اختيار نښه کېږدی. ⑪ خو په مالِک کښې ښځه د سړی نه غير آزاده نهٔ ده او يا سړے د ښځې نه غير آزاد نهٔ دے. ⑫ ځکه څنګه چې ښځه د سړی نه پيدا شوې ده نو سړے هم د ښځې په وسيله پيدا شوے دے، خو ټول څيزونه د خُدائ پاک د طرفه دی. ⑬ تاسو په خپله اِنصاف وکړئ چې ولې ښځې ته مناسب دی چې په سر توره خُدائ پاک ته دُعا وکړی؟ ⑭ ولې فطرت تاسو ته دا نهٔ ښائی چې کهٔ د سړی اوږدهٔ ويښتهٔ وی نو دا د هغهٔ بې‌عزتی ده؟ ⑮ خو کهٔ د ښځې اوږدهٔ ويښتهٔ وی نو دا د هغې ښُکلا ده، ځکه چې ويښتهٔ هغې ته د پردې دپاره ورکړے شوی دی. ⑯ خو کهٔ ځوک



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په دي خبره بحث کوی نو نۀ دا زمونږ او نۀ د خُدائ پاک د جماعتونو دستور دے.

## په غلطه طریقه عشاء ربانی کول

۱۷ خو اوس په دې هدایاتو کښې زۀ ستاسو ستائینه نۀ کوم ځکه چې ستاسو رایوځائ کېدل د فائدې نه بلکې د نقصان باعث جوړېږی. ۱۸ د ټولو نه اول خو زۀ دا اورم چې کله تاسو په جماعت کښې راغونډېږئ نو تاسو په خپلو کښې بیا په ډلو تقسیمېږئ او زۀ په دې تر څۀ حده پورې یقین هم کوم. ۱۹ ځکه چې په تاسو کښې ډله بازی ضروری ده صرف د دې دپاره چې دا ښکاره شی چې په تاسو کښې څوک رښتینی دی. ۲۰ نو کله چې تاسو راجمع کېږئ نو دا په حقیقت کښې تاسو د عشاء ربانی خوړلو دپاره نۀ راجمع کېږئ. ۲۱ ځکه چې کله د خوراک وخت راشی نو تاسو هر یو خپل خوراک کوئ، او څوک په کښې نهر او څوک نشه پاتې شی. ۲۲ نو ولې د خوراک څښاک دپاره ستاسو خپل کورونه نشته څۀ؟ یا ولې تاسو د خُدائ پاک جماعت سپکوئ او هغوئ شرموئ چې څۀ سره څۀ نشته؟ زۀ تاسو ته څۀ ووایم؟ ولې زۀ ستاسو تعریف وکړم؟ په دې عمل زۀ ستاسو تعریف نۀ کوم. ۲۳ ځکه چې کومې خبرې ما تاسو ته حواله کړې نو هغه ما د مالِک نه حاصلې کړې دی، چې په کومه شپه د مالِک عیسیٰ مُخبری وشوه روټۍ یې راواخسته، ۲۴ او کله چې هغۀ پرې شُکر وکړو نو ماته یې کړه او وې فرمائیل چې، "دا زما بدن دے چې ستاسو دپاره دے. زما په یاد کښې دغه شان کوئ." ۲۵ هم دغه شان هغۀ د روټۍ نه پس پیالۍ واخسته او وې فرمائیل چې، "دا پیالۍ زما په وینه کښې د خُدائ پاک او انسانانو په مینځ کښې نوے لوظ دے. هر کله چې دا څښئ نو زما په یاد کښې یې څښئ." ۲۶ نو هر کله چې تاسو دا روټۍ خورئ او دا پیاله څښئ نو تاسو د مالِک د مرګ اعلان کوئ ترڅو چې هغه رانۀ شی. ۲۷ نو په دې وجه چې څوک په نامناسبه طریقې سره د مالِک روټۍ خوری یا د هغۀ د پیالۍ نه څښی، نو هغه به د مالِک د بدن او



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د وينې قصوروار وى. (٢٨) د عشائى ربانى روټئ خوړلو او پيالئ څښلو نه اول
خپل ځان وآزمائى. (٢٩) نو ځکه چې څوک په خوراک څښاک کښې د مالِک د
بدن خيال ونۀ ساتى، نو هغه به په هغه خوړلو څښلو سزا بيا مومى. (٣٠) نو په دې
وجه په تاسو کښې ډېر کمزورى او بيماران دى او ځينې مړۀ شوى دى. (٣١) خو
کۀ چرې مونږ خپله خپل ځان وآزمايو نو مونږ به د هغۀ د عدالت نه بچ شُو. (٣٢)
خو کله چې مالِک زمونږ عدالت وکړى نو دا زمونږ د اصلاح دپاره کوى د دې
دپاره چې مونږ د نورې دُنيا سره مجرمان نۀ شو. (٣٣) نو زما وروڼو او خوېندو،
کله چې تاسو د عشاء ربانئ دپاره راجمع شئ نو د يو بل اِنتظار کوئ. (٣۴) کۀ
تاسو اوږى يئ نو اول بيا په کور کښې روټئ خورئ، نو چې ستاسو رايوځائ
کېدل تاسو مجرم نۀ کړى. د نورو خبرو په حقله به زۀ هدايات درکړم کله چې زۀ
بيا درشم.

## روحانى نعمتونه

١٢ (١) نو اوس اے وروڼو او خوېندو، زۀ نۀ غواړم چې تاسو د روحانى
نعمتونو په باب کښې ناخبره پاتې شئ. (٢) تاسو ته پته ده چې کله تاسو کافر
وئ نو تاسو دوکه شوئ او په هغه ګونګيانو بُتانو پسې ګمراه شوئ. (٣) نو په دې
وجه زۀ غواړم چې تاسو په دې پوهه شئ چې د خُدائ پاک د روح په وسيله
خبرې کوونکى به کله هم په عيسىٰ لعنت ونۀ وائى او بغېر د روحُ القُدس د وسيلې
نه هيڅوک نۀ شى وئيلے چې عيسىٰ مالِک دے. (۴) نو د نعمتونو خو مختلف
قِسمونه دى خو روح يو دے. (۵) او د خدمتونو هم مختلف قِسمونه دى خو
مالِک هم هغه يو دے. (۶) خو د کارونو مختلف قِسمونه دى، خُدائ پاک هم هغه
يو دے چې په مختلفو طريقو سره دا ټول کارونه کوى. (٧) خو په مونږ کښې د
روحُ القُدس د نعمتونو اثر د ټولو خلقو د فائدې دپاره دے. (٨) نو يو ته د روح په
وسيله د حِکمت کلام ورکړے شى او بل ته د هم هغه روح په وسيله د علميت



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کلام، (٩) چا ته هم د هغه روح په وسیله ایمان او چا ته هم د هغه روح په وسیله د شفا ورکولو قدرت، (١٠) چا ته د معجزو طاقت، چا ته پېشگوئي، چا ته د مختلفو روحونو پېژندل، چا ته د نورو ژبو وئیلو قدرت او چا ته د ژبو تشریح کول. (١١) خو دا ټول کارونه هم هغه یو روح کوی او چا ته یې چې روح غواړی هغهٔ ته یې ورکوی.

## د یو بدن مختلف اندامونه

(١٢) څکه لکه څنګه چې بدن یو دے او د دې اندامونه ډېر دی، او د بدن ټول اندامونه اګر کهٔ ډېر دی خو ټول یو بدن دے، هم دغه شان مسیح هم دے. (١٣) دغه شان کهٔ مونږ یهودیان یُو او کهٔ غېریهودیان، کهٔ غلامان یُو او کهٔ آزاد، مونږ ټولو په یو روح کښې بپتسمه اخستې ده او خُدائ پاک زمونږ د ټولو په زړونو کښې یو روح اچولے دے. (١٤) حقیقت کښې بدن د یو اندام نه نهٔ وی جوړ بلکې د ډېرو نه جوړ وی. (١٥) کهٔ چرې پښه ووائی چې زهٔ لاس نهٔ یم، او زهٔ د بدن حِصه نهٔ یم، نو په دې وینا د هغوئ د بدن سره تعلق نهٔ ختمیږی. (١٦) او کهٔ غوږ ووائی چې زهٔ سترګه نهٔ یم او زهٔ د بدن حِصه نهٔ یم، نو په دې وینا د هغوئ د بدن سره تعلق نهٔ ختمیږی. (١٧) کهٔ چرې ټول بدن سترګه وے نو اوریدل به چرته وُو؟ او کهٔ چرې ټول بدن غوږونه وے نو بوبول به چرته وُو؟ (١٨) خو خُدائ پاک په بدن کښې هر یو اندام د خپلې مرضئ په مطابق جوړ کړے دے. (١٩) کهٔ دا ټول یو اندام وے نو بیا بدن به چرته وو؟ (٢٠) نو اوس اندامونه ډېر دی خو بدن یو دے. (٢١) نهٔ سترګه لاس ته وئیلے شی چې ما ته ستا ضرورت نشته، او نهٔ سر پښو ته وئیلے شی چې ما ته ستا ضرورت نشته. (٢٢) بلکې حقیقت کښې چې د بدن هغه اندامونه چې د نورو نه کمزوری ښکاری، هم هغه ډېر لازمی دی. (٢٣) او د بدن هغه اندامونه چې مونږ یې د نورو په نسبت شرم ګڼو، مونږ هم هغوئ ته زیات اهمیت ورکوو، او چې د لږ احترام والا اندامونه دی نو په پردې کولو سره د هغوئ زیات احترام کوُو. (٢٤) حالانکه زمونږ د احترام لائق اندامونو ته د داسې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

احترام ضرورت نشته. خو خُدائ پاک بدن داسې جوړ کړے دے چې هغه
بېقدره اندامونو ته یې زیات عزت ورکړے دے، ٢٥ د دې دپاره چې په بدن
کښې بېاتفاقی پېدا نۀ شی بلکې اندامونه د یو بل برابر خیال وساتی. ٢٦ کۀ یو
اندام تکلیف کښې وی نو ټول ورسره په تکلیف کښې وی، او کۀ یو اندام عزت
ومومی نو نور ټول اندامونه ورسره خوشحاله وی. ٢٧ نو اوس تاسو ټول په
شریکه د مسیح بدن یئ او تاسو ټول د یو بدن اندامونه یئ. ٢٨ او خُدائ پاک په
جماعت کښې بېل بېل کسان مقرر کړل، اول رسولان، دویم نبیان او دریم
اُستاذان، بیا معجزې ښوونکی، بیا شفا ورکوونکی، مددګاران، اِنتظام کوونکی او
نورې ژبې ویونکی. ٢٩ ولې ټول رسولان یُو څۀ؟ ولې ټول نبیان یُو څۀ؟ ولې ټول
اُستاذان یُو څۀ؟ ولې ټول معجزې ښوونکی یُو څۀ؟ ٣٠ ولې ټولو ته د شفا
ورکولو نعمت ورکړے شوے دے څۀ؟ ولې ټول نورې ژبې وایو څۀ؟ ولې ټول
تشریح کوونکی یُو څۀ؟ ٣١ خو تاسو د لویو نعمتونو حاصلولو دپاره خپل
محنت جاری ساتئ. زۀ به اوس تاسو ته د ټولو نه یوه افضله طریقه دروښایم.

### د مینې نعمت

١٣ ١ کۀ زۀ د بنی آدمو او د فرښتو په ژبو خبرې کوم خو چې مینه نۀ کوم
نو زۀ ټنګېدونکے ډولکے او یا شړنګېدونکے چنچنړے یم. ٢ او کۀ زۀ پېشګوئې
کولے شم او کۀ ما ته ټول پټ رازونه او ټول عِلم معلوم وی او کۀ زما داسې
ایمان وی چې غرونه خپل ځائ نه اخوا کړم، خو کۀ ما کښې مینه نۀ وی نو زۀ
هیڅ شے نۀ یم. ٣ کۀ زۀ خپل ټول مال دولت خیرات کړم او خپل بدن په
سوزولو سره قربان کړم، خو کۀ ما کښې مینه نشته نو ما ته هیڅ فائده نشته. ٤
مینه صابره ده، مینه مهربانه ده، مینه چا سره کینه نۀ ساتی، مینه لافې نۀ کوی او
نۀ لوئی کوی، ٥ نۀ بېادبی کوی، نۀ په خپل مطلب پسې ګرځی، نۀ غصه کوی
او نۀ بدګُمانی کوی. ٦ مینه په بدکاری نۀ خوشحالیږی بلکې په رښتیا وئیلو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوشحالیږی. ۞٧ مینه ټول څیزونه برداشت کوی، په ټولو څیزونو یقین کوی، د ټولو څیزونو اُمید ساتی او هر څهٔ زغمی. ۞٨ مینه هیڅکله نهٔ ختمیږی، خو پېشگویانې به ختمې شی، او د نورو ژبو نعمتونه به هم ختم شی، او عِلم به هم فنا شی. ۞٩ ځکه چې زمونږ عِلم او زمونږ نبوت کامِل نهٔ دے. ۞١٠ خو کله چې کامِل څیز راشی نو دا نامکمل څیزونه به ختم شی. ۞١١ کله چې زهٔ ماشوم وم ما د ماشوم غوندې خبرې کولې، زما د ماشوم په شان سوچ وو او د ماشوم په شان ناپوهه وم، خو کله چې زهٔ ځوان شوم نو ما د ماشوموالی خویونه پرېښودل. ۞١٢ ځکه اوس مونږ ته دا په شیشه کښې تت ښکاری خو بیا به یې مخامخ ووینو. اوس زما عِلم نامکمل دے خو بیا به یې پوره وپېژنم څنگه چې زهٔ پوره پېژندلے شوے یم. ۞١٣ او اوس ایمان، اُمید او مینه درې واړه پاتې کیږی او په دوئ کښې مینه افضله ده.

## د نورو ژبو او نبوت کولو نعمت

**١۴** ۞١ د مینې او محبت لمن ونیسئ او د روحانی نعمتونو او خاص د پېشگویئ د نعمت خواهش کوئ. ۞٢ ځکه څوک چې په نورو ژبو خبرې کوی نو هغه د نورو خلقو سره نه، بلکې د خُدائ پاک سره خبرې کوی، او بل څوک د هغهٔ په خبره نهٔ پوهیږی ځکه چې هغه د روح په وسیله د راز خبرې کوی. ۞٣ خو بله دا څوک چې نورو ته نبوت کوی نو د هغوئ د ترقئ او د ډاډگیرنی او تسلی دپاره یې کوی. ۞۴ څوک چې په نورو ژبو کښې خبرې کوی هغوئ د خپل ځان ترقی کوی خو څوک چې نبوت کوی هغوئ جماعت ته ترقی ورکوی. ۞۵ اوس زهٔ غواړم چې تاسو ټول په نورو ژبو خبرې وکړئ خو زما سخت خواهش دا دے چې تاسو نبوت وکړئ. ځکه څوک چې نبوت کوی هغه د نورو ژبو ویوونکو نه لوئ دے تر دې چې هغه دا ترجمه کړی نو جماعت به پرې ترقی وکړی. ۞۶ نو زما ورونړو او خویندو، کهٔ چرې زهٔ تاسو ته درشم او په نورو ژبو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې خبرې کوم نو زما د وینا بیا تاسو ته څۀ فائده ده، ترڅو چې زۀ د کشف یا د عِلم یا د پېشګوئۍ یا د تعلیم خبرې تاسو ته ونۀ کړم؟ ﴿٧﴾ تاسو بیا لکه د موسیقۍ د هغه بےساه څیزونو په مثال یئ چې د کومو نه آوازونه راوځی لکه شپیلۍ یا رباب. کۀ چرې څوک هغه صفا ونۀ غږوی نو بیا د هغوئ په ساز و سرود څوک پوهېدے شی؟ ﴿٨﴾ کۀ د بیګل آواز صفا نۀ وی نو یو فوجی به خپل ځان جنګ ته څنګه تیار کړی؟ ﴿٩﴾ هم دغه شان کۀ ستاسو خبرې صفا نۀ وی نو بیا ستاسو په خبرو به څوک پوهه شی؟ ځکه چې بیا به تاسو هسې دېوال ته لګیا یئ. ﴿١٠﴾ بےشکه چې په دُنیا کښې مختلفې ژبې دی خو یوه هم په کښې بےمطلبه نشته. ﴿١١﴾ خو کۀ چرې زۀ د کومې ژبې په مطلب نۀ پوهېږم چا ته چې خبرې کوم نو هغۀ ته به زۀ نا آشنا ښکارم او هغه به ما ته نا آشنا ښکاری. ﴿١٢﴾ نو تاسو چې خپل ځان سره د روحانی نعمتونو خواهش کوئ نو داسې کوشش کوئ چې ستاسو دا نعمتونه د جماعت د ترقۍ دپاره وی. ﴿١٣﴾ نو په دې وجه څوک چې په نورو ژبو خبرې کوی نو هغه دې ضرور د تشریح کولو د قابلیت دپاره هم دُعا وکړی. ﴿١٤﴾ ځکه کۀ زۀ په نورو ژبو دُعا کوم نو زما روح خو دُعا کوی ولې عقل مې بےکاره دے. ﴿١٥﴾ نو بیا زۀ څۀ وکړم؟ زۀ به په روح کښې دُعا کوم خو ورسره به په عقل کښې هم دُعا کوم، زۀ به په روح کښې حمد و ثنا کوم خو زۀ به په عقل سره هم حمد و ثنا کوم. ﴿١٦﴾ فرض کړه، کۀ تۀ په روح کښې حمد و ثنا کوې او یو نا آشنا کس چې هلته موجود وی نو هغه بیا ستا په شُکر ګزارۍ څنګه آمین کولے شی؟ ځکه چې هغه نا آشنا په دې نۀ پوهېږی چې تۀ څۀ وائې. ﴿١٧﴾ ځکه چې تۀ خو به په ښۀ شان سره شُکر ګزاری وکړې خو ستا شُکر ګزاری بل چا ته څۀ فائده نۀ ورکوی. ﴿١٨﴾ د خُدائ پاک شُکر کوم چې تاسو ټولو نه زیات زۀ په نورو ژبو کښې خبرې کوم. ﴿١٩﴾ خو په جماعت کښې هغه پینځۀ مقصدی خبرې د دې نه بهترې ګڼم چې نورو ته ترې فائده ورسی، د هغه لس زره خبرو نه چې په نورو ژبو کښې یې وکړم. ﴿٢٠﴾ اے زما ورونړو او خوېندو، په خپله پوهه کښې ماشومان مۀ جوړېږئ، بدۍ ته ماشومان شئ خو په پوهه کښې بالغان



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شئ. ﴿٢١﴾ په تورات کښې ليکلی دی چې، "زهٔ به دې قوم ته په عجيبه ژبو او په غېرو شونډو خبرې وکړم خو بيا به هم هغوئ ما ته غوږ ونهٔ نيسی. دا مالِک فرمائی." ﴿٢٢﴾ نو روحانی ژبې د ايماندارانو دپاره نه، بلکې د بې‌ايمانانو دپاره نښې دی او پېشګوئې کول د بې‌ايمانانو دپاره نه، بلکې د ايماندارانو دپاره دی. ﴿٢٣﴾ نو کهٔ ټول جماعت راغونډ وی او په نورو ژبو لګيا وی نو کهٔ نا آشنا يا بې‌ايمانه دننه راشی نو ولې هغوئ به تاسو ته ليونی ونهٔ وائی څهٔ؟ ﴿٢٤﴾ خو کهٔ تاسو ټول نبوت کوئ کهٔ يو بې‌ايمانه يا نا آشنا دننه راشی نو د دې په اورېدو به هغه په دې قائل شی چې ګناه ګار شوے يم او هغه بيان به د دهٔ جاج واخلی. ﴿٢٥﴾ د بې‌ايمانه د زړهٔ د راز ښکاره شوی رازونه به ښکاره شی. هغه به ... 

## په ترتيب سره عبادت کول

﴿٢٦﴾ نو اے ورونړو او خوېندو، لنډه دا، هر کله چې تاسو عبادت له راجمع کېږئ نو په تاسو کښې دې څوک حمد، يا تعليم، يا کشف يا په نورو ژبو خبرې او يا د نورو ژبو تشريح په ترتيب سره کوئ او دا هر يو کار د جماعت د ترقۍ دپاره کوئ. ﴿٢٧﴾ کهٔ څوک په نورو ژبو خبرې کوی نو صرف دوه يا زيات نه زيات درې کسان دې نمبر په نمبر خبرې وکړی او يو کس دې يې تشريح کړی. ﴿٢٨﴾ خو کهٔ څوک تشريح کوونکے نهٔ وی نو هغوئ دې په جماعت کښې چپ پاتې شی او خپل ځان او د خُدائ پاک سره دې خبرې وکړی. ﴿٢٩﴾ نو تاسو صرف دوه يا درې نبيانو ته د خبرو موقع ورکوئ، او نور دې په آرام سره د هغهٔ د خبرو جاج واخلی. ﴿٣٠﴾ خو کهٔ په حاضرو کسانو کښې چا ته د مالِک نه کشف مِلاو شی نو کوم کس چې د اول نه په نبوت کولو لګيا دے هغه دې خاموش شی. ﴿٣١﴾ ځکه هر يو نمبر په نمبر نبوت کوئ، نو چې تاسو ټولو ته هدايت او پاڅګيرنه حاصله شی، ﴿٣٢﴾ او نبيان د نبيانو د روحونو تابع وی. ﴿٣٣﴾ ځکه چې خُدائ پاک



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د بد نظمۍ نه، بلکې د امن خُدائ دے. لکه چې د مقدسينو په ټولو جماعتونو
کښې دے (۳۴) ښځې دې په جماعتونو کښې خاموشه وی. ځکه چې هغوئ ته د
خبرو کولو اجازت نشته بلکې هغوئ دې تابعدارې وی څنګه چې شريعت هم
وائی. (۳۵) که هغوئ په څۀ خبره ځان پوهول غواړی نو هغوئ دې د خپلو
خاوندانو نه په کور کښې تپوس کوی. ځکه چې په جماعت کښې د ښځې دپاره
خبره کول د شرم خبره ده. (۳۶) ولې د خُدائ پاک کلام تاسو جوړ کړے دے
څۀ؟ يا ولې دا صرف تاسو ته رارسېدلے دے؟ (۳۷) که څوک د نبوت، يا د
روحانی نعمتونو د لرلو دعویٰ وکړی نو هغه دې پوهه شی چې کومې خبرې زۀ
تاسو ته ليکم هغه د مالِک حکم دے. (۳۸) هر څوک چې دا نۀ منی، نو هغه به هم
نا منظوره کړے شی. (۳۹) نو اے زما ملګرو، د نبوت کولو خواهش کوئ او په
نورو ژبو خبرې کوونکی مۀ منع کوئ. (۴۰) خو هر يو کار صحيح او ترتيب سره
کوئ.

## د حضرت عيسیٰ مسيح بيا ژوندی کېدل

۱۵ (۱) نو زما وروڼو او خوېندو، زۀ به اوس تاسو ته هغه زيرے درياد کړم
چې ما تاسو ته درکړے وو، کوم چې تاسو قبول کړے وو او په کوم چې تاسو
قائم هم يئ. (۲) او د کوم په وسيله چې تاسو خلاصون حاصلوئ که چرې تاسو
زما په درکړی زيری قائم يئ، که نۀ يئ نو ستاسو ايمان راوړل عبث وو. (۳) ما د
ټولو نه اول هغه اهم خبره تاسو ته در ورسوله کومه چې ما ته رارسېدلې وه چې د
صحيفو په مطابق مسيح زمونږ د ګناهونو دپاره مړ شو، (۴) او هغه ښخ شو او د
کِتاب مقدس په مطابق هغه په دريمه ورځ بيا ژوندے پاڅېدلو. (۵) او هغه اول
پطروس او بيا دولسو کسانو ته ښکاره شو. (۶) بيا هغۀ يو ځل د پينځو سوو نه
زيات وروڼو او خوېندو ته ښکاره شو چې په هغوئ کښې زيات کسان تر اوسه
ژوندی دی او ځينې مړۀ دی. (۷) بيا هغه يعقوب ته ښکاره شو او د دې نه پس



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټولو رسولانو ته. ﴿٨﴾ د ټولو نه په آخر کښې هم ما ته ښکاره شو، زۀ چې بې‌مودې پيدا شوے يم. ﴿٩﴾ زۀ په رسولانو کښې د ټولو نه ورکوټے يم تر دې چې د رسول بللو لائق هم نۀ يم ځکه چې ما د خُدائ پاک جماعت زورَولے وو. ﴿١٠﴾ خو زۀ چې هر څۀ يم هغه د خُدائ پاک په فضل يم، او هغه فضل چې په ما وشو هغه بې‌فائدې نۀ وو. په حقيقت کښې ما د هغوئ ټولو نه زياته خوارى کړې ده. اګر کۀ دا ما ونۀ کړه بلکې د خُدائ پاک په هغه فضل وشوه چې په ما دے. ﴿١١﴾ نو بيا په دې کښې دومره فرق نۀ پرېوځى کۀ چرې زۀ بيان وکړم او يا کۀ هغوئ، خو مونږ دواړه يو زيرے بيانوو په کوم چې ستاسو د اول نه ايمان دے.

## د مړو بيا ژوندى کېدل

﴿١٢﴾ نو اوس کۀ مونږ زيرے بيانوو چې مسيح له مړو نه بيا راژوندے شوے دے
نو بيا په تاسو کښې ځينې دا څنګه وائى چې د مړو بيا ژوندى کېدل نشته؟ ﴿١٣﴾
کۀ د مړو بيا ژوندى کېدل نۀ وے نو بيا خو مسيح هم راژوندے شوے نۀ دے.
﴿١٤﴾ او کۀ مسيح بيا نۀ وى راژوندے شوے نو بيا زمونږ پېغام عبث دے او
ستاسو ايمان هم بې‌فائدې دے. ﴿١٥﴾ بلکې مونږ د خُدائ پاک دروغژن ګواهان
شو ځکه چې مونږ د خُدائ پاک په حقله دا ګواهى ورکړې وه چې هغۀ مسيح
راژوندے کړو. کۀ چرې مړى بيا نۀ راژوندى کېږى نو بيا هغه يې هم نۀ دے
ژوندے کړے. ﴿١٦﴾ ځکه چې کۀ مړى نۀ راژوندى کېږى نو بيا مسيح هم
راژوندے شوے نۀ دے. ﴿١٧﴾ او کۀ چرې مسيح نۀ وو راژوندے شوے نو
ستاسو ايمان عبث دے او تاسو اوس هم په خپلو ګناهونو کښې راګېر يئ.
﴿١٨﴾ او بيا دا هم هغوئ څوک چې په مسيح کښې مړۀ شوى دى هغوئ هم هلاک
شوى دى. ﴿١٩﴾ کۀ چرې زمونږ اُميد په مسيح صرف د دې ژوند دپاره وى نو بيا
مونږ په ټولو انسانانو کښې قابل رحم يُو. ﴿٢٠﴾ خو په حقيقت کښې مسيح د مړو
نه بيا راژوندے شوے دے. دغه شان هغه د مړو نه اولنے ژوندے شوے انسان
دے. ﴿٢١﴾ لکه څنګه چې د يو انسان په سبب په دُنيا مرګ راغلو نو داسې د يو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

انسان په سبب د مړو نه بيا راژوندى کېدل راغلل. ﴿٢٢﴾ او لکه څنګه چې ټول
خلق په آدم کښې مړهٔ کيږى، نو دغه شان به ټول په مسيح کښې بيا راژوندى
کيږى. ﴿٢٣﴾ خو د راژوندى کېدو خپل ترتيب دے، اول مسيح راژوندے شوے
دے، او چې کله مسيح بيا راشى نو د هغهٔ خلق به هم راژوندى شى. ﴿٢٤﴾ بيا به
آخرت راشى. کله چې مسيح ټول حکمرانان، ټول اختيارونه او قدرتونه تباه کړى
نو د هغې نه پس به هغه بادشاهى خُدائ پلار ته حواله کړى. ﴿٢٥﴾ ځکه چې هغه به
تر هغې ضرور بادشاهى کوى ترڅو چې خپل ټول دشمنان د خپلو پښو لاندې
کړى. ﴿٢٦﴾ آخرى دشمن کوم چې به نيست او نابود کړى، هغه مرګ دے. ﴿٢٧﴾
ځکه چې "خُدائ پاک هغهٔ ته په هر څيز پوره اختيارورکړے دے." نو چې کله
کِتابِ مقدس داسې فرمائى، چې هغهٔ په هر څيز پوره اختيار ورکړے دے، نو
مطلب دا نهٔ دے چې په خُدائ پاک يې هم اختيار دے، چا چې خپل اختيار
مسيح ته ورکړے دے. ﴿٢٨﴾ کله چې ټول څيزونه د هغهٔ د حکم لاندې شول نو
زوئ به په خپله هم د خُدائ پاک د حکم لاندې شى چا چې ټول څيزونه د هغهٔ د
حکم لاندې کړى دى نو هم دا خُدائ پاک به د ټولو مالِک وى. ﴿٢٩﴾ نو کهٔ چرې
داسې وى نو بيا به هغه خلق څهٔ کوى څوک چې د مړو دپاره بپتسمه اخلى؟ کهٔ
چرې مړى نهٔ راژوندى کيږى، نو بيا ولې خلق د هغوئ دپاره بپتسمه اخلى؟ ﴿٣٠﴾
او ولې مونږ هر وخت خپل ځان په خطره کښې اچوو؟ ﴿٣١﴾ زما وروڼو او
خوېندو، زهٔ تاسو ته دا وايم چې زهٔ هره ورځ مرګ سره لوبې کوم او دا داسې
رښتيا خبره ده لکه څنګه چې زهٔ په تاسو زمونږ په مالِک عيسىٰ مسيح کښې فخر
کوم. ﴿٣٢﴾ کهٔ صرف د انسانى اُميد دپاره زهٔ په اِفسوس کښې د وحشتناکو
ځناورو سره وجنګېدلم نو د دې نه ما ته څهٔ فائده حاصله شوه؟ کهٔ مړى بيا نهٔ
راژوندى کيږى نو "مونږ له ښهٔ خوراک څښاک په کار دے، ځکه چې سبا به مړهٔ
کيږُو." ﴿٣٣﴾ دوکه کېږئ مه، ځکه چې د بدو ملګرتيا د انسان ښهٔ عادتونه
خرابوى. ﴿٣٤﴾ په پوره هوش او فکر کښې راشئ او نوره ګناه مهٔ کوئ. ځکه زهٔ دا
ستاسو د شرمېدلو دپاره وايم چې په تاسو کښې څهٔ خلقو ته د خُدائ پاک په



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حقله عِلم نشته.

## راژوندے شوے بدن

۳۵ خو څوک به تپوس وکړی چې، ”مړی څنګه راژوندی کیږی او د هغوئ بدن به څۀ قِسم وی؟“ ۳۶ اے نادانه، کوم تخم چې تۀ کَرې نو ترڅو چې هغه مړ نۀ شی تر هغې نۀ ژوندے کیږی. ۳۷ او څۀ چې تاسو کَرئ دا تاسو تیار بوټی نۀ کَرئ بلکې صرف د تخم دانه کَرئ کۀ هغه د غنم وی یا د څۀ بل څیز وی. ۳۸ خو خُدائ پاک دې ته یو وجود ورکوی چې هغۀ ورته منتخب کړے وی او هر قسم تخم ته هغه خپل خپل وجود ورکوی. ۳۹ دغه شان غوښه هم یو شان نۀ وی بلکې د انسانانو غوښه یو قِسم وی او د څاروو بل او د مارغانو بل او د کبانو غوښه بل قِسم وی. ۴۰ هم دغه شان آسمانی او زمکنی وجودونه هم شته، او د آسمانی وجود ښائست یو قسم او د زمکنی وجود بل شان وی. ۴۱ هم دغه شان د نمر او د سپوږمۍ او د ستورو په ښائست کښې فرق وی، او بله دا چې د یو ستوری ښائست د بل نه مختلف وی. ۴۲ نو بیا د مړو راژوندی کیدل هم دغه شان وی، د فنا په حالت کښې ښخ کړے شی او په غیر فانی حالت کښې راژوندی کیږی. ۴۳ د ذلالت په حالت کښې ښخیږی او د ښائست په حالت کښې راژوندی کیږی، دا په کمزورتیا کښې ښخ شی او په طاقت کښې راژوندی شی. ۴۴ دا جسمانی وجود ښخ شی او روحانی وجود راژوندے شی. چې جسمانی وجود شته نو روحانی وجود هم شته. ۴۵ هم دغه شان لیکلی دی، ”اول سړے، یعنې آدم ژوندے نفس جوړ شو، خو آخری آدم ژوندون ورکوونکے روح جوړ شو.“ ۴۶ اول جسمانی او بیا روحانی وجود پیدا کیږی یعنې وجود اول جسمانی، او بیا روحانی شی. ۴۷ اولنے انسان یعنې آدم د خاورو نه جوړ شوے وو، او دویم انسان آسمانی دے. ۴۸ او د زمکې خلق لکه د اول انسان په شان د خاورو دی، او آسمانی خلق لکه د هغه آسمانی انسان په شان دی. ۴۹ او څنګه چې مونږ د دې زمکنی انسان په صورت جوړ شوی یُو دغه شان به د



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

آسمانی انسان په صُورت کښې هم شُو. ۞۵۰ زما ورونړو او خوېندو، زما مطلب دا دے چې دا جسمانی بدن د خُدائ پاک د بادشاهۍ وارث کېدے نۀ شی، او نۀ فانی کېدونکی د غېر فانی کېدونکی وارث کېدے شی. ۞۵۱ غوږ شئ، زۀ به درته یوه د راز خبره وکړم چې مونږ ټول خو به نۀ مرو بلکې مونږ ټول به بدل شُو، ۞۵۲ او د آخری بیګل د آواز سره په یوه لحظه او د سترګو په رپ کښې به مړی په غېر فانی حالت کښې راژوندی شی، او مونږ به بدل شُو. ۞۵۳ ځکه چې دا فانی کېدونکے بدن به ضرور غېر فانی لباس واچوی او دا ختمېدونکے بدن به د ابدی ژوندون لباس واچوی. ۞۵۴ کله چې دا فانی بدن غېر فانی، او دا فنا کېدونکے بدن ابدی لباس واچوی، بیا به هغه قول پوره شی چې لیکلے شوی دی چې، "په مرګ فتح غالبه شوه." ۞۵۵ "اے مرګه، ستا فتح څۀ شوه؟ اے مرګه، ستا د طاقت هغه لشه څۀ شوه؟" ۞۵۶ د مرګ لشه ګناه ده او د ګناه طاقت شریعت دے. ۞۵۷ خو د خُدائ پاک شُکر دے چې هغۀ مونږ ته د مالِک عیسیٰ مسیح په وسیله فتح راکوی. ۞۵۸ نو اے زما خوږو ورونړو او خوېندو، ټینګ او قائم اوسئ او همېشه د مالِک په کار کښې بوخت اوسئ ځکه چې تاسو ته پته ده چې په مالِک کښې ستاسو خواری بې‌فائدې نۀ ده.

## د مقدسینو دپاره چنده

۱۶ ۞۱ اوس د هغې چندې په حقله چې د مقدسینو دپاره کېږی تاسو به په هغه هدایاتو عمل کوئ چې ما د ګلتیانو جماعتونو ته ورکړی دی. ۞۲ د هرې هفتې په اوله ورځ دې په تاسو کښې هر یو کس د خپلې ګټې نه د خپل ځان سره څۀ نا څۀ جمع کوی، د دې دپاره چې کله زۀ درشم چې د چندې کولو حاجت ما ته نۀ وی. ۞۳ او زۀ چې کله درشم نو زۀ به هغه کسانو ته چې تاسو ته قابل اعتماد وی د پېژندګلو خطونه ولیکم چې یروشلم ته ستاسو چنده یوسی. ۞۴ او کۀ دا مناسب وی چې زۀ هم لاړ شم نو هغوئ به ما سره یو ځائ لاړ شی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د سفر دپاره منصوبې

(۵) زۀ به د مِکدونيه د تېرېدو نه وروستو تاسو له درشم ځکه چې زما اراده ده
چې د مِکدونيه په لاره هلته لاړ شم. (۶) او کېدے شي چې زۀ تاسو سره پاتې شم
او ژمے تاسو سره تير کړم نو چې بيا زۀ چرته ځم نو تاسو به مې هلته رُخصت
کړئ. (۷) ځکه زۀ اوس په لاره کښې تاسو سره ملاقات کول نۀ غواړم بلکې زما
دا اُميد دے کۀ مالِک وغوښتل نو څۀ وخت به تاسو سره تير کړم. (۸) خو زۀ به
د پنځوسمې اختر پورې په اِفِسوس کښې پاتې يم. (۹) ځکه چې زما دپاره د ښۀ
خِدمت يو لوئ ور کولاو دے او هلته مخالفين هم ډېر دی. (۱۰) کۀ چرې
تيموتيوس درشي نو خيال يې وساتئ چې هغه بې د څۀ يرې نه تاسو سره پاتې شي
ځکه چې هغه هم زما په شان د مالِک خِدمت کوی. (۱۱) خپلو ملګرو له دا موقع
مۀ ورکوئ چې هغه سپک وګڼي بلکې هغه صحيح سلامت رارُخصت کړئ، زۀ د
هغۀ په طمع يم سره د نورو ورونړو. (۱۲) نو ما اپولوس ورور نه دا وغوښتل چې د
نورو ورونړو سره تاسو ته درشي خو هغه اوس په درتلو راضي نۀ شو، خو چې
کله ورته وخت مِلاو شي نو در به شي.

## آخرى پيغامونه او سلامونه

(۱۳) بېدار اوسئ، په خپل ايمان قائم اوسئ، زړَور شئ، مضبوط اوسئ. (۱۴) تاسو
چې څۀ هم کوئ هغه په پوره مينې سره کوئ. (۱۵) او تاسو ته پته ده چې په اخيه
کښې د ستِفناس خاندان اول ايمان راوړو او خپل ځانونه يې د مقدسينو خِدمت
ته وقف کړل، نو اے ورونړو او خوېندو، زۀ تاسو ته خواست کوم چې (۱۶) د هم
دغه خلقو تابعدارى کوئ بلکې د هر هغه چا هم تابعدارى کوئ چې دغه شان
خِدمت او محنت کوى. (۱۷) زۀ د ستِفناس، فرتوناتوس او د اخيکوس په راتلو
ډېر خوشحاله يم ځکه چې هغوئ ستاسو ځائ ونيولو. (۱۸) ځکه چې هغوئ
ستاسو او زما زياته ډاډګيرنه وکړه نو د دغه شان کسانو قدر کوئ. (۱۹) د آسيه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جماعتونه درته سلامونه وائی، اکوله او پرسکله د هغې جماعت سره چې د هغوئ
په کور کښې دے تاسو ته په مالِک کښې د مینې ډک سلامونه کوی. ۲۰ ټول
ورونړه او خوېندې درته سلامونه وائی. په پاکې مینې سره یو بل ته سلام ووایئ.
۲۱ زۀ پولوس درته په خپل لاس دا سلام لیکم. ۲۲ څوک چې د مالِک سره
مینه نۀ کوی په هغوئ دې لعنت وی، مالِکه راورسه. ۲۳ د مالِک عیسیٰ مسیح
فضل دې په تاسو وی. ۲۴ زما مینه دې په عیسیٰ مسیح کښې تاسو ټولو سره
وی.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © یوسفزی ۲۰۱۹

Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.